# دَ فیلیمون په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## فیلیمون باب ۱

## سلام

۱ دَ پولوس له طرفه چه دَ مسیح عیسیٰ له خاطره په قید کښے دے اَوُ دَ وړور تیموتیوس له طرفه،خپل
ګران اَوُ ملګری فیلیمون ته، ۲ اَوُ خور افیه اَوُ خپل ملګری اَوُ دَ مسیح سپاهی ارخیپوس اَوُ دَ فیلیمون دَ
کور دَ جماعت په نُوم،

۳ زمُونږ دَ خُدائے پلار اَوُ مالِک عیسیٰ مسیح دَ طرفه دِ فضل اَوُ سلامتی تاسو ته حاصله وی.

## دَ فیلیمون مینه اَوُ ایمان

۴ زَهٔ همیشه دَ خپل خُدائے شُکر کوم اَوُ تا په خپلو دُعاګانو کښے یادوم، ۵ ځکه چه ما ستا دَ هغه مینے
اَوُ ایمان په حال آورېدو چه تهٔ ئے دَ ټولو پاکانو اَوُ عیسیٰ مسیح سره لرے، ۶ دَ دے دَ پاره چه ستا دَ
ایمان شراکت زمُونږ دَ هر خوئ په پېژندو کښے دَ مسیح دَ پاره اثر ولری. ۷ ځکه چه اَئے وروره! ما ته
ستا په مینه ډیره خوشحالی اَوُ تسلی شوے ده ځکه چه ستا په سبب دَ پاکانو زړُونه تازه شوی دی.

پولوس دَ اونیسیموس دَ پاره سفارش کوی.

۸ نو اګر که زَهٔ په مسیح کښے ښهٔ زړهٔ ور یم چه تا ته دِ مُناسب حُکم درکړم، ۹ خو ما ته دا زیاته غوره
ښکاری چه زَهٔ بوډا پولوس بلکه په دے وخت کښے دَ مسیح عیسیٰ له خاطره چه په قید کښے یم، ۱۰
دَ مینے په سبب درته دا سوال کوم چه دَ خپل زوئے اونیسیموس په حقله،څوک چه دَ قید په حالت
کښے په رُوحانی طور زما نه پیدا شو،درته دا خواست کوم. ۱۱ اول خو هغه ستا دَ څهٔ کار نهٔ وُو،ولے
اوس ستا اَوُ زما دواړو دَ کار دے.

۱۲ نو ما په خپله هغه،یعنے زما دَ سترګو تور،تا ته دراستولے دے. ۱۳ هغه خو ما ځان سره پاتے کول
غوښتهٔ دَ دے دَ پاره چه ستا له طرفه زما خدمت وکړی،چه دَ زیری دَ خاطره په دے قید کښے یم. ۱۴
خو ستا دَ مرضئ نه بغیر ما هیڅ دسے کار کول ونهٔ غوښتل،دَ دے دَ پاره چه ستا نیک کار دَ مجبورئ په
وجه نه،بلکه دَ خوشحالئ سره وی.

۱۵ ځکه چه کیدے شی چه اونیسیموس ستا نه دَ دے دَ پاره لږ وخت له جُدا شوے وی چه بیا تل دَ تا
سره وی. ۱۶ خو اوس ئے دَ غُلام په شان نه،بلکه دَ غُلام نه غوره،یعنے دَ یو خوږ وړور په شان چه هغه
په ما ډیر ګران دے،ځکه چه هغه غُلام هم اَوُ په مالِک کښے وړور هم دے،نو ځکه په تا دِ هم ډیر
زیات ګران وی.

۱۷ نو کهٔ تهٔ ما خپل شریک ګڼے نو دئے داسے قبُول کړه لکه ما،۱۸ اَوُ که دَهٔ چرے ستا څهٔ نُقصان

کړے وی اَوْ یا پړے ستا څۀ پور وی نو هغه ما پسے ولیکه. ۱۹ زَۀ پولوس درته دا په خپل لاس لیکم چه
په خپله به ئے ادا کړم،اَوْ دَ دے وینا هیڅ جاجت نِشته چه زما چه په تا څۀ پور دے هغه هم تهٔ ئے. ۲۰
اَئے وروره! دَ مالِک دَ خاطره په ما مهربانی وکړه اَوْ په مسیح کښے دَ یو ورور په حیثیت په دے کار
کښے ما خوشحاله کړه.

۲۱ تا ته په لیکلو زما باور دے چه تهٔ به زما درخواست پُوره کړے،بلکه دَ هغے نه هم زیات. ۲۲ دَ دے
نه علاوه زما دَ ایساریدو دَ پاره یوه کوټه تیاره کړئ ځکه چه زما اُمید دے چه ستاسو خلقو دَ دُعاګانو په
جواب کښے خُدائے به مے بری کړی اَوْ تاسو ته به مے در ورسوی.

## آخری سلامُونه

۲۳ اِپفراس چه دَ مسیح له خاطره ما سره قیدی دے تا ته سلام وائی،۲۴ اَوْ مرقوس،اریسترخوس،دیماس اَوْ
لُوقا هم چه په کار کښے ما سره ملګری دی.

۲۵ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل دِ ستاسو ټولو سره وی.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved